ځينې خلک دې د جمعې د لمانځه له پرېښودلو منع شي، که نه نو الله تعالى به د دوى پر زړونو مهر ولګوي، چې بيا به له غافلو څخه وګڼل شي

له عبد الله بن عمر او ابو هريره رضي الله عنهما څخه روايت دى، هغوى دواړو له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې د منبر پر تختو يې فرمايل: "ځينې خلک دې د جمعې د لمانځه له پرېښودلو منع شي، که نه نو الله تعالى به د دوى پر زړونو مهر ولګوي، چې بيا به له غافلو څخه وګڼل شي".

[صحيح دى] [مسلم روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپل منبر له سره هغو خلکو ته خبردارى ورکړ چې د جمعې لمانځه ته نا حاضريږي او له کوم عذر پرته يې د بې پروايۍ او تنبلۍ له امله پريږدي چې يا خو دې دا کار پريږدي او يا دا چې الله تعالى به يې پر زړونو مهر ولګوي او وبه يې پوښي او داسې يوه پرده به پرې راولي چې د حق له پيرولۍ څخه يې منع کړي او بيا به د خبر له اسبابو څخه د بې پروا خلکو له ډلې څخه شي، هغه خلک چې نه غواړي په نفسونو کې يې د الله تعالى ويره ځاى ولري.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65767